# د مرزا خان انصاري
# په کلام کښې تصوف او وحدت الوجود

# MYSTICISM AND PANTHEISM IN THE VERSES OF MIRZA KHAN ANSARI

Kalim Shinwari*

**ABSTRACT.**

The following article gives an open description of the philosophical touch of the verses from Mirza khan ansari. Mirza khan ansari is the first leading figure of the 10th century hijri who presents the mystical thoughts, especially pantheism for the first time in a rationalistic way. Thereby, he is a commanding poet of Roshanite movement in Pashto literature and skillfully promotes the teachings of his teacher Bayazid ansari (Pir Rokhan).

وړاندې ددې نه چې په پښتو ژبه او ادب کښې د تصوف او وحدت الوجود د روایت په حقله په اجمالي ډول او د مرزا خان انصاري په کلام کښې ددغه اړخ په مناسبت سره په تفصیلي ډول معروضات وړاندې کړے شي ، نو مناسب به دا وي چې وړومبے د تصوف او وحدت الوجود په حقله څۀ لږ غوندې وضاحت اوکړے شي ـ تصوف څۀ شے دے ؟ او ددې مفهوم څۀ دے ؟ دا یو تحقیق طلب سوال دے ، ځکه چې صوفیاؤ او نورو دانشورانو د تصوف ډول ډول تعبیرونه کړي دي ـ د لفظ ''صوفي'' په ماخذ او تاریخي حېثیت چې کوم تحقیق شوے نو چا د ''صفا'' نه عبارت ګڼلے دے او چا د اهل صفه یا صف نه او چا دا وئیلي دي چې په ابتداء کښې به اکثرو صوفیاؤ د صوف لباس

* Ph.D Scholar Pashto Department University of Peshawar

اغوستو ـ نو ځکه ورته تصوف اووئیل شول ـ د ځنې خلقو رایې دا ده چې د قرآن کریم په اصطلاح کښې د تصوف نوم ''تزکیه او حکمت'' دے او د حدیث په اصطلاح کښې ورته ''احسان'' وئیلي شوي دي ـ تصوف که د ''حیران آباد'' په نوم یاد شوے ، نو د انسان د نفسیاتي او داخلي دنیا د تهذیب او تربیت نوم هم ورکړے شوے دے ـ ځنې خلق وائي چې تصوف د فاضله اخلاقو دویم نوم دے ـ دا هم وئیلے شي چې د حق تعالیٰ او بنده تر مینځه چې کوم مانعات دي ـ هغه لرې کول تصوف دے ـ مختصر دا چې صوفیائے کرام ته د منسوب شوي علم نوم تصوف دے او د تصوف په لار تلونکي ته سالک یا صوفي وئیلے شي ـ وئیلے شي چې په فنا في الله کښې د سالک په نظر کښې دوه ډوله حالات راځي چې یو ته وحدت الشهود وائي او دویم ته وحدت الوجود ـ عام طور سره وحدت الشهود په ''همه از اوست'' او وحدت الوجود په ''همه اوست'' باندې مشهور دے ـ د وحدت الشهود معنیٰ ده ''یولیدل'' او د وحدت الوجود معنیٰ ده ''یو کېدل'' په شهودي توحید کښې سالک ته په هر څیز کښې د حق تعالیٰ مشاهده کېږي ، خو د وجودي صوفیاؤ په نزد په دې کښې دویې موجوده وي ، یعني یو شاهد او دویم مشهود ـ لیکن په وحدت الوجود کښې صرف شاهد موجود وي او نور هر څۀ نیست وي ـ مختصر دا چې دا دواړه مکتبۀ فکر د خپلو خپلو خیالاتو او نقطۀ نظر په بنیاد د یو بل سره اختلاف لري ، خو د هغې حېثیت هم د لفظي جګړې نه سېوا نۀ دے ـ

په پښتو ژبه او ادب کښې د صوفیانه شاعرۍ د روایت په حقله په مختصر ډول دومره عرض کېدے شي ، چې د پښتو پخوانۍ شاعري په دریو دورونو باندې مشتمله ده ـ چې اول دور ئې د دویمې صدۍ هجرۍ نه شروع شوے او په ۹۰۰هـ ختم شوے دے ـ د تحقیق کونکو په مطابق د پښتو شاعري تر څلورمې صدۍ هجرۍ پورې د نورو ژبو د اثر نه بیخي محفوظه وه ، خو د څلورمې صدۍ هجرۍ نه پس په پښتو ژبه کښې د عربۍ او فارسۍ ژبو اثرات راڅرګندېدل شروع شو او پښتو شاعرۍ کښې د اصناف سخن مختلف

قسمونه لکه مثنوي ، قصيده ، مرثيه ، غزل او مربع نظم هم په دې دور کښې متعارف شول ـ چونکې د نورو ژبو نه د مختلفو صنفونو د منتقل کېدو سره سره د مختلفو موضوعاتو انتقال هم يو لازمي امر وو ، نو ځکه د عربۍ او فارسۍ څخه د نورو ګڼو موضوعاتو په شان تصوف هم پښتو شاعرۍ ته رامنتقل شو ـ د پښتو ژبې د وړومبي دور په شاعرانو کښې د تصوف په حواله د يو شاعر شېخ متي (پېداوښت ۲۲۳هـ) ذکر کېدے شي ـ او دا هم ممکنه ده چې ددې دور د بل کوم شاعر په کلام کښې هم د تصوف آثار موجود دي خو ترکومه پورې چې په منظم او مربوط ډول د تصوف او وحدت الوجودي فلسفې د روايت خبره ده نو هغه په پښتو ادب کښې د ټولو نه اول بايزيد انصاري (پير روښان ۳۲ ـ ۹۳۱هـ څخه تر ۹۸۰هـ) د يوې تحريکي نظريې په ډول وړاندې کړې وه ـ بايزيد انصاري ددغې فلسفې په ذريعه د پښتو په کلاسيکي شعري ادب کښې يو خپل ادبي مکتب راپېدا کړو ، کوم چې نن سبا په روښاني مکتب باندې موسوم دے ـ بايزيد انصاري او هغۀ د مکتب نورو غړو په منظوم او منثور دواړو حوالو سره د پښتو ادب د تصوف د علم سره اشنا کړو اود وحدت الوجود فلسفه په خصوصي توګه ددې مکتب د شاعرانو د شاعرۍ بنيادي او مرکزي موضوع ګرځيدلې وه ـ مطلب دا چې په لسمه صدۍ هجرۍ کښې د روښاني مکتب د شاعرانو د شاعرۍ نه د وحدت الوجود د روايت اغاز شوے دے او ددې مکتب د نورو شاعرانو په شاعرۍ کښې عموماً او د مرزاخان انصاري په شاعرۍ کښې خصوصاً د وحدت الوجود په فلسفه باندې مشتمل شعرونه ښۀ په کثرت سره موجود دي او حقيقت دا دے چې د روښاني مکتب په شاعرانو کښې مرزا خان انصاري د وحدت الوجود د فلسفې د ټولو نه لوئے علمبردار وو ـ

مرزا خان انصاري د نورالدين زوئې او د بايزيد انصاري نمسے او مريد وو ـ د دوئي د پېداوښت نېټه په صحيح توګه نۀ ده معلومه شوې ـ خو نومووړي محقق ښاغلي همېش خليل د دوي د پېداوښت نېټه ۹۸۸هـ ليکلې

ده[1] او ډاکټر پرویز مهجور خویشکي صیب ۸۹ ـ ۹۸۸هـ لیکلې ده[2] ـ البته د مرزا خان انصاري د وفات په حقله د دوي یو شاګرد او مرید دولت لواڼي په واضحه توګه دا وئیلي دي چې په ۱۰۴۰هـ کښې د دکن په جنګ کښې شهید شوے وو ـ مرزا خان انصاري د ملا ارزاني خویشکي نه پس د پښتو د ټولو نه پخوانے صاحب دیوان شاعر دے ـ د دوئي دیوان په اول ځل په کال ۱۹۵۹ء کښې ، بیا دویم ځل په کال ۱۹۷۵ء او دریم ځل ۲۰۰۴ء کښې چاپ شوے او خپور شوے دے ـ د دوئي ټول دیوان د قدرت د جمال د نظارو ، د وحدت الوجود د باریکیو او د تصوف او عرفان د موضوعاتو او رموزو څخه ډک دے ـ د روښاني مکتبۀ فکر په شاعرانو کښې د ملا ارزاني نه پس مرزا خان انصاري هغه واحد نمائنده او منفرد شاعر دے چا چې په پښتو شاعرۍ کښې د تصوف او وحدت الوجود د باب اغاز کړے دے ـ د مرزا خان انصاري په حقله مرحوم عبدالحئ حبیبي صیب په خپل کتاب "پښتانۀ شعراء" کښې لیکلي دي چې :-

> "دا هغه صوفي شاعر دے چې پښتو شعر و شاعرۍ کښې ئې د سلوک او تصوف باب پرانستو او د عشق حقیقي هغه مضمون ئې پښتو کښې راننه ویستو کوم چې فارسۍ کښې حکیم سنائي راداخل کړے وو ....... مرزا خان انصاري یو سالک ، عارف او صوفي سړے وو او ځکه ئې پښتو ادب کښې د تصوف ور پرانستو ـ دے خپله د وحدت الوجود ښۀ قائل وو او خپل دیوان کښې ئې په دې مسئله ډېر ښۀ ښۀ اشعار وئیلي دي ـ دے وائي چې حقیقي او اصل وجود یو د باري تعالیٰ دے ـ دا نور ټول وجودونه اعتباري دي ، ددۀ ذات (مبارک) واحد دے ـ مګر په مختلفو رنګونو وجودونو کښې ښکاره شوے دے ...... ګند ېږي او ټول موجودات ددۀ د ذات (مبارک) مظهر دي ـ په هر شي کښې د وحدت راز څرګند ېږي[3]"

هم دې ضمن کښې مرحوم خيال بخاري صيب هم د ''قند'' مجلې په غزل نمبر کښې ليکلي دي چې :

'' د مرزا خان انصاري درست ديوان د صوفيانه خيالاتو يوه بې بها خزانه ده ۔ او هر چا چې د تصوف په حلقه د متقدمينو افکار لوستلي دي او خصوصيت سره ئې د تصوف د ټولو نه لوئے تفسير ( مثنوي) ئې تر مطالعې تېره شوي وي ، هغۀ چې دا اشعار لولي نو ورځرګندېږي چې د مرزا خان انصاري هر يو شعر د عرفان او تصوف د اسرار او رموزو د ملغلرو يو صدف دے[۴] ،،

هم دې سلسله کښې مرحوم رضا همداني صيب ليکلي دي چې :-

'' چونکې مرزا خان انصاري د روښاني ډلې سړے وو ۔ پير روښان لوئې متصوف او وحدت الوجودي وو او ځکه تصوف د مرزا د ژوند يو اهم جُز وو ۔نو د هغۀ کلام کښې هم بې د تصوف بله موضوع نشته ۔ پښتو غزل کښې مستقلاً کۀ چا د تصوف خبرې کړې دي نو هغه مرزا خان انصاري دے ..... د غزل په ژبه کښې چې کوم د تصوف نازک مسائل مرزا خان حل کړي دي هغۀ د پښتو د شعري ورومبني دور کښې نوي هم دي او ډېر اهميت هم لري[۵] ،،

د مرزا خان انصاري په حقله ښاغلي ډاکټر يار محمد مغموم خټک صيب ليکلي دي :

"Mirza khan Ansari is the first Pakhtoon poet to have given place to mysticism (Wahdat-ul-wajud) in his ghazals in an organized way. He not only paved way for the sufic poetry theories in his poetry of (khushhal) khan khattak. He particularly influenced his ( khushhal) romantic poerey[۶]"

ترجمه :- مرزا خان انصاري هغه وړومبے پښتون شاعر دے ، چا چې پخپل غـزل کښې تصوف (وحدت الوجود) ته په يوه منظمه طريقه ځائے ورکړے دے . دوئي خپله شاعرۍ کښې د مختلفو نظرياتو د وضاحت په سبب نۀ يوازې د رحمان بابا د صوفيانه کلام دپاره لاز هواره کړې ده بلکې د خوشحال خان خټک شاعري ئې هم متاثره کړې ده. دوئي په خاص طور سره د هغۀ (خوشحال) په رومانوي شاعرۍ باندې ډېر اثرات مرتب کړي دي.

د مرزا خان انصاري د شاعرۍ او د روښاني مسلک د تصوف او وحدت الوجودي فلسفې په تناظر کښې معروف سکالر ډاکټر پرويز مهجور خويشکي صيب په خپله يوه مقاله کښې ليکلي دي :

" روښانيانو هم په عباداتو کښې د عشق د توکي د ګډون له وجې يو سرور پېدا کړو. عبادت ئې د عادت د دائرې نه رابهر کړو. د ذات (مبارک) د معرفت سره ئې د مينې جذبه راپېدا کړه. دې جذبې سالکان د معنوي جمال په راز اګاه کړۀ ...... روښاني شاعرۍ د مذهب د تبليغ سره سره په وړومبي ځل ډېر په تفصيل سره د پښتنو روحونه او دماغونه د تصوف د روحاني او علمي اړخ سره اشنا کړۀ . روحونه ئې د توحيد او عرفان د اسرارو او دماغونه ئې د فلسفې د مزاج سره بلد کړل.

په پښتو ژبه عجب دي دا خبرې
په صفت د يګانه محبوب حاضرې

(مرزا خان انصاري)

د روښاني شاعرۍ د صوفيانه وجدان او اعلیٰ شاعرانه ادراک په برکت د پښتنو باطني قوتونو ته يو پُر اسراره بيداري ورکړه او د عشق او مينې په طفيل ئې د دوئي زړونه او عقلونه د توحيد د عرفاني عالم سره مخ کړل [۷] "

د پورتنو ذکر شوؤ پوهانو د حوالو په تائيد کښې او د مرزا خان انصاري د ديوان د مطالعې په رڼا کښې مونږ په دې نتيجه رسېږو چې مرزا خان انصاري د روښاني مکتبهٔ فکر يو د ډېر لوئې مبلغ وو او نژدې نژدې د هغوئي ټوله شاعري هم د تصوف او وحدت الوجود د فلسفې هنداره ده ۔راځئ چې په اخير کښې د مرزا خان انصاري د کلام نه د وحدت الوجود په فلسفيانه افکارو باندې مشتمل د څو نمائنده شعرونو نمونې وځيرو :

زهٔ بــه څــهٔ وايــم چــې څــهٔ يــم
نېســـت و هســـت واړه پــه دهٔ يـــم[۸]

پــه هــر لــور چــې د بــاطن پــه ســترګو ګــورم
دا کلــي اشــياء زمــا د يــار پــه څېــر شــي[۹]

مـــولانـــهٔ دے تـــر تـــا لـــرې
درنـــزدې دې تـــر خپـــل ځـــان دے
پـــه دا زمکـــه پـــه اســـمان کښـــې
هـــم محـــيط تـــر دغـــه ميـــان دے
لـــه لاهوتـــه ئـــې راکـــوچ کـــړ
نـــن ئـــې ســـېر پـــه جهـــان دے
حـــد پايـــان ئـــې مونـــدے نـــهٔ شـــي
پـــه ســـړي کښـــې ئـــې مکـــان دے
پـــه وحـــدت کښـــې يګانـــه شـــو
پـــه کثـــرت کښـــې پرېشـــان دے[۱۰]

دا هســـتي ئـــې بـــې پايانـــه
پـــه هـــر څـــهٔ کښـــې ئـــې صـــفت دے

دا مجـــــاز ئــــې غـــــلاف کـــــړے
پکښـــــې اېښـــــے حقيقـــــت د ے
پـــــه يــــوۀ کښـــې دويــــم نشـــــته
بـــې هــــوده ګمـــــان غفلــــت د ے[11]
هـــــر واصــــل چـــې يګانــــه شـــي
نـــــداره بـــــه د وحـــــدت کـــــا[12]

د مخلــــوق ژونـــــدون پــــه دۀ د ے
پــــه اوبــــۀ ژونــــدون د کـــــب
چــې شــپه ورځ ئـــې پـــه اوبـــۀ کښـــې
مــــاهي ګرځـــــي تشــــنه لــــب
کـــــه مشـــــتاق ئـــــې لــــرې مــــۀ ځــــه
د ے تـــــر تــــا و تـــــا اقــــرب[13]

اے مــــرزا ســــړے هغـــه بللـــے بويـــه
هــر چــې نــن ئــې د وحــدت پيالــه کــړه ګوټــه[14]

د وحـــــدت پـــــه بــــازار راغـــــے
پـــه هـــر ځـــائے کښـــې د ے مکـــين د ے[15]

د وحــدت الــوجــود د فلسفې د يو بل نمائنده غزل دا څو شعرونه ئې هم اوګورئ :-

دا کــــلام د حقيقـــــت پـــــه ژبـــــه وايـــــم
لکــه ذات پــه هــر صــفات کښــې خپســر ســتايم
يـــک تنهـــا لکـــه الـــف يمـــه بـــې ټکـــي
پـــه يـــوه وجـــود محـــيط پـــه کـــل اشـــياء يـــم

مـــدام يـــو لـــۀ يـــو وجـــوده تماشـــا کـــړم
تـــل تـــر تلـــه بـــې شـــريکه بـــې همتـــا يـــم
کـــه زمـــا ويګـــانګۍ وتـــه نظـــر کـــړې
پـــه وحـــدت کښـــې دوئـــي نشـــته يـــک تنهـــا يـــم
د کثـــرت پـــه عـــددونو مـــې ځـــان پـــټ کـــۀ
اوس ګهـــې ګهـــې دغـــه شـــم ګهـــې دا يـــم
د اثبـــات قـــدم مـــې پـــاس پـــه نفـــي کېښـــود
او د ذات زوال مـــې نشـــته تـــل بقـــا يـــم
زمـــا ذات پـــه دواړه کونـــه نـــۀ ځـــائېږي
پـــه قفـــس کښـــې وئيـــدلے د ميـــرزا يـــم[۱۲]

# حوالې

۱ همېش خلیل ، مقدمه ، مشموله ، دیوان مرزا خان انصاري ، دارالتصنیف پېښور، ۱۹۵۹ء ، ص : ل

۲ پرویز مهجور خوېشکي ، ډاکټر ، مقدمه ، مشموله ، د مېرزا خان انصاري دیوان، پښتو اکېډیمي پېښور یونیورسټي ، ۲۵ نومبر ۲۰۰۴ء ، ص ا

۳ عبدالحئ حبیبي ، مؤلف ، پښتانۀ شعراء ، اوله حصه ، پښتو ادبي مرکز (پاکستان) سرائے نورنګ بنوں ، س ن ، ص ۱۴

۴ مجله ، قند ، غزل نمبر ، مردان ، جولائي ، اګست ۱۹۵۹ء ، ص ۱۳۰

۵ همدغه مجله ، ص ۹۷

۶ Maghmoom, Yar Muhammad, prof Dr. the Rowshnites and Pastho literature. Pashto academy University of Peshawar ۲۰۰۵, P ۳۲۲

۷ پرویز مهجور خوېشکي ، ډاکټر ، د روښاني تحریک مذهبي محرکات او اغیزې، مشموله ، پښتو ، پښتو اکېډیمي پېښور یونیورسټي ، ۱۹۹۵ء ، ص ص ۲۹، ۳۰

۸ مېرزا خان انصاري ، د مېرزا خان انصاري دیوان ، مرتب ، ډاکټر پرویز مهجور خوېشکي ، ص ۱۳۴

۹ همدغه ، ص ۱۳۴

۱۰ همدغه ، ص ۵

۱۱ همدغه ، ص ۱

۱۲ همدغه ، ص ۳۳

۱۳ مرزا خان انصاري ، دیوان مرزا خان انصاري ، مرتب همېش خلیل ، ص ۳۰

۱۴ همدغه ، ص ۱۴

۱۵ مېرزا خان انصاري ، د مېرزا خان انصاري دیوان ، مرتب ، ډاکټر پرویز مهجور خوېشکي ، ص ۱۴

۱۶ همدغه ، ص ۳۲۱